انجنير سيد عبدالقادر ۲۰۰۹/۱۲/۲۵م

# دفساد په وړاندي په اصطلاح مبارزه کول
# او که اقتصادی جنایتکارانو ته برا ئت ورکول

لومړي: تر هر څه دمخه باید په لنډ ډول سره ووایو چه فساد یعني څه !
دوهم: بایداووایو چه دفساد دمنځه وړلو دمبارزي تر شعار لاندي دغربي ا وافغاني واکمنانو هدف څه دی :
دریم: محترم کرزي صاحب ته یو ځانګړي وړاندیز ٠
لومړي: د شفافیت نړیوال سازمان فساد داسي تعریف کړي دي :
فساد:دشخصي ( خصوصي ) ګټودترلاسه کولو له پاره ، ددولتي اختیاراتو څخه ناوړه استفاده کول بلل کیږي٠ چه داتعریف دنړیوالو له خواه څخه هم قبول سوي دي ٠
فساد په لاتیني ژبه کي ( رمپر) یعني ماتیدل او په اصطلاح کي بیا دقوانینونقض کولو ته ویل کیږي ٠ فساد هر وخت دبشري تمدن اوپر مختګ سره معکوساً رابطه لري ٠ حتی په ډیرو بشري ټولنو کښي هم دا فساد دي چه داخلي جنګونه اود نورمالو ډموکراتیکو حاکمیتونو پر ضد اغتشاشونه او بلوربلونه منځ ته راوړي ، او هغه ټولني یي بیا د سختو بشري او اقتصادي جنایاتو سره مخامخ کړي دي ٠
هم دا فساد دی چه دحاکمیت په یوه معینه مرحله کي ځیني واکمنان دملي شتمنیو څخه دخپل ځان په ګټه داسي ناوړه استفاده کوي ، چه ډیر ژر په مصنوعي ډول ځان او خپله ډله دټولني په منځ کښي دملي تجارانو په بڼه کي ښکاره کوي ٠ چه ښه مثال یي په دې یوه نیمه لسیزه کي په افغانستان کي دابشري او اقتصادي جنایتکاران دي ، چه په غیر مشروع او دملت دارادې څخه لیري یو په بل پسي دملت پر شتمنیو باندي لاسونه راګرځوي ، او ځانونه یي دلس هاوو اوسل هاوو میلیونو ډالرو خاوندان کړل ٠
اوهم باید ووایو چه فساد پر دوه ډوله باندي تقسیم سوي دي ، یعني لوي او کوچني فساد:
ــ هغه فساد چه دلویو واکمنانو په زریعه سرته رسیږي ، یعني د ټولني لوي اکثریت ته په اقتصادي ،سیاسي او اجتماعي ساحو کي ضربه ورکوي ،چه حتی په ځینو وختونو کي کیدلایسي ددوي دافساد په بشري جنایاتو باندي هم تبدیل سي ، ځکه نو دلوي فساد په نامه سره یادیږي ٠
ــ هغه فساد چه دکوچني مامورینو په زریعه سره سر ته رسیږي ، په جامعه کي دپرمختګ دمخ نیوي اوبشري جنایاتو سبب نه کیږي ، ځکه نو دکوچني فساد په نامه سره یادیږي ٠
که په یوه ټولنه کي فساد په لوړه سطح کي قرار ولري ، یعني لوړ واکمنان پري ککړ او ددولت ټول واک یي په لاس کي وي ، نو په دې ټولنه کښي بیا دفساد کشف اوعاملینو ته یي مجازات ورکول دامکانه لیري خبره ده ٠نو په دغسي وختونو کي بیا دغه دولتي رژیمونه دخپلو ولسونو دتیر وتلوله پاره یوازي دفساد په وړاندي دمبارزي تاوده شعارونه ورکوي ، او هر څه په هم دغو شعارونو کي پاته وي ٠ اوهم دارنګه په یوه ټولنه کي بیا دلوي فساد په شتون کي دکوچني فساد دمنځه وړل دامکانه څخه لیري خبره ده ٠ ځکه نو لومړي باید دلوي فساد پر ضد دمبارزي تیره توره راواخیستل سي ٠
دپورتنیو لنډو توضیحاتو په نظر کي نیولو سره باید ووایو چه :
محترم کرزي ،دفساد له منځه وړلو په خاطر دتیري هفتي دکنفرانس په افتطاحیه غونډه کي دخپلو خبرو په یوه برخه کي یي داسي وویل :
په نوي دوره کي به زما هڅه داوي ، چه دحکومت څخه دفساد داغ لیري ،او فاسد کسان به محکي ته معرفي سي ٠ او هم یي دفساد سره دمبارزي پر اداري ړ غ وکړ ، چه دلوي ګام په توګه دمرستیالانو او وزیرانو پانګي او جایدانونه او دهغوي دتر لاسه کولو منابع ثبت کړي ٠ اوهم یي په افغانستان کي پیچلي اداري سیستم داداري فساد دپراخید و لوي عامل وبلي ، او دقوانینو دساده کولو غوښتنه یي وکړه ٠

او هم باید ووایو چه محترم کرزي ، دکلیواودپراختیا دشوراګانو په سیمینارکي په ۱۳ــ۱۱ــ ۲۰۰۷ تازیخ باندي دخپلو خبرو په درشل کي یي بیا داسي ویلي وه :
وګوري هغه ښکلي مانۍ ګاني ، تجملي کورونه ، ښکلي قصرونه ، ښینه یي کورونه او ډیر جایدادونه او هم په خارج کي دري څلور ښکلي کورونه دچادي ؟ دادافغانستان دحکومت داعضاوو او دپارلمان دځینو اعضاوودي ٠
ولي دخپلو خبرو په دزشل کي بل ځاي بیا داسي وایي : ملت وایي خیر دي ٠


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

يعني دااقتصادي جنايات چه مو کړي دي ملت عفوه کړي ياست او په راتلونکي کي نور مه کوي ۰ چه دانو په رښتيا سره ملت ته يو لوي توهين دي ۰

دافغانستان دولتي واکمنانو دفسادپرضد مبارزه په داسي وخت کي اعلان کړل ، چه نوي حکومت يي دجوړيدوپه درشل کي دي ۰

او محترم کرزي ، دقوس پر ۲۸ نيټه دنوي کابيني نيژدي ۹۰ فيصده غړي وپارلمان ته درايواخستلو له پاره په داسي حال کي وروپيژندل ۰

چه په دې تيرو اتو کلونو کښي نه يوائي ولس ددولتي واکمنانو تر ږيرو لاندي دفساد څخه په تنګ راغلي وه ، بلکه محترم کرزي هم څو ځلي په مختليفو سيمينارونو اوکنفرانسونو کښي دا

داري فساد څخه په ظاهري ډول سرټکولي دی ، چه پورتني څرګندوني يي ښکاره ثبوت دي ۰

ولي محترم کرزي دپورتنيوڅرګندونو سره سره بيا هم نيژدي دوه ثلثه هغه زاړه وزيران ولسي جرګي ته معرفي کړل ، چه ده خپله په ۲۰۰۷ کال کي په فساد باندي متهم کړي وه ۰ نو کوم سالم افغاني سياسي تعقل به د ده څرګندوني پر افغاني او ملي صداقت باندي ولاړي وبولي ۰ واقعيت خو دادي چه يو متل دي چه وايي ( هغه آش او هغه کاسه ) ۰

په لنډ ډول سره بايد ووايو چه د فساد په وړاندي مبارزه دامريکا تر رهبري لاندي دغربي نړي وستراتيژيکي اهدافو ته دنيژدي کيدو يا

درسيدو له پاره دافغان يرغمل سوي ولس دتير وتلو له پاره تش په نامه يو تاکتيکي شعار اوسياست دی ۰ اوداسي معلوميږي چه دلته هم غواړي په يوه ټک دوه هدفه وولي ۰ هغه دا چه :

– لمړي غواړي دغه ولسي تنفر چه دامريکا او غربي نړي او ددوي دګوډاګي دولت په وړاندي موجود دی که وکړايسي چه فيصدي يي راټيټه کړي ۰ اوهم دخپلو ولسونو او په ځانګړي توګه دافغان ولس دتير وتلو له پاره داسي کسان وڅارنوالي او محکمي ته معرفی کړی ، چه اصلا په اداری فساد باندی يا ککړ نه وي ، او يا هم دونه لږ رشوت يا اختلاس يي کړي وي ، چه په اوسني وخت کي حتی حساب هم نه سي پرکيدلاي ۰ ځکه نو داخارجی او داخلي واکمنانان غواړي چه هغه لوي بشري او اقتصادي جنايتکاران چه يرغلي ځواکونو ته يي سر ټيټ کړي ، او يا دغرب څخه يي دخپلو عسکرو سره يوځاي راوستلي دي ،دخپلو ولسونو او افغان ولس څخه يي پټ او برائت يي په نصيب کړي ۰

زمادپورتني ادعا ښکاره ثبوت ديو تعداد يرغلي هيوادونو له خواه دهم دې وزيرانو عجولانه تائيد دي ، چه دولسي جرګي تر تصويب دمخه دقوس پر ۲۹ نيټه دکابل دآريانا دټلويزيوني شبکي له لوري يي خبر خپور سوو ۰ اوهم د دغونومول سووځينو وزيرانو له خوا ه څخه دميلمستيا کارتونه هم يو تعداد وکيلانوته چه يي ليږلي وه ، دځينو وکيلانو له خواه څخه دقوس د۲۹ نيټي دولسي جرګي په جلسه کښي افشاسول ۰ چه په دې څرګندونواو کړونوکي ، په ښکاره ډول بيا دلوي فسادنښي او نښاني ښکاري ۰

ځکه نو ضروربريښي چه ديوه امريکايي ليکوال ويليم آر – پولک دهغه ليک يوه برخه چه اوباما ته يي دافغانستان له پاره دنوي ستراتيژي دجوړيدوپروخت ديوه پخواني ملګري په حيث ورليږلي وو رانقل کړم ۰ ګرچه دې ليکوال هم ديوي زاويي څخه ددي مهمي مسلئ سره برخورد کړي ، اوداسي يي ليکلي دي :

دافغان حکومت داصلاح له پاره نور داسي څه نه دي پاته چه موږ يي وکړو ، فساد له سره تر پښو داسي پکښي خپور دي لکه زه چه په ويتنام کي شاهيدوم ۰ که يو حکومت خپله غل وي خارجيان يي هيڅکله مخ نه سي نيولاي ۰

که په رښتيا جمهور ريس دخپلوتيروکړونوپه نظرکي نيولو سره دفساد په وړاندي دمبارزي اتلولي غواړي ، او دملي شتمنيو ساتنه خپله ايماني او وجداني وظيفه بولي ، او ودې حقيقت ته موعتقد وي

چه ملي شتمني دټول ولس يو طبعي حق دي ، او ټول بايد ځيني بهرمند سي نوبايد :

۱ - دخپل قدرت څخه په سالمه استفاده ، دازوريدلي ولس چه په اوس مهال کي دخپلو او پردو په اورونو کي سوځي ، لږ تر لږه داسي نجات ورکړي ، چه په څه ناڅه امنيت کي ديوه کوچني ټاټوبي ، يخواوبو او ډوډي خاوندان سي ، نوپه دې صورت کي بايدبيا پرخپلوهغو تيرو فرمانونو او دمرستيالانو پر امرونو باندي دسره غور او دقت وکړي ، کوم چه دافغان ولس دلاسه دملي شتمنيوديوي لويي برخي دوتلوسبب ګرځيدلي ، او دځينو اقتصادي لوټ مارانو په لاس کي کښيوتلي دي ۰ چه دااقتصادي لوټمارانو بيا دوخت څخه په ګټه او په لوي جرأ ت دولس نورو ملي شتمنيوته هم ځانونه نيژدې کړي ،اودولس دارادې څخه ليري په غير مشروع ډول پر خپلو نومونوباندي قباله کوي ۰ چه داخپله په يوه ټولنه کي لوي ترين فساد دي ، ځکه دبشري جناياتو سبب کيږي ۰ دمثال په ډول تقريباً دوي مياشتي مخکي دمحترم کرزي استوګن ځاي ( قصر نمبر ۱ ) او دشيرچور ستروماقيايي ماڼي ګانوته نيژدې په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځلورکیلو متري کي یعني دقمبر په ځلور لاري دمهاجرینو په یوه کمپ کي ۱۲ ماشومان په ښیري خیمو کي دیخني له کبله په شهادت ورسیدل ۰ نور ولایتونه خو لاپر خپل حال پرېږده ، چه پردې غریب ولس باندي ددې اقتصادي جنایتکارانو له خواه څه تیرېږي ۰

ولي په کابل او نورو ولایاتونوکي بیا دهم دي اقتصادي مافیایي ډلو له خواه څخه دلسګونو او شلګونو زرو جریبو مځکوپه داسي حال کي تصرف کول دي ، چه دغه مافیایي ډلي بیا هم دغه مځکي پر بي کوره زوریدلي ولسي خلګو باندي په یوه سرسامه کوونکي قیمت باندي پلوري ۰ او یا هم دکورونو په شکل سره یي پلوري ۰ چه ددې نیژدي مثالونه دشیر پورتاریخي اوکلتوري سیمه چه په اوس مهال کي دشیر چور په نامه یادیږي ۰ اویا هم دکندهار ، هرات ، ننګرهار ، او ۰۰۰ اکثریت ولایتونونه دي ۰ چه په اوس مهال کي یي هم پر ملي شتمنیو باندي داقتصادي مافیا له خواه څخه یرغلونه کیږي ۰ چه دفساد سره دمبارزي په دغه پروسه کي باید محترم کرزي ، دخپل ولس په ملاتړ دا اقتصادي جنایتکاران تر غوږوونیسي دعدل او محکمي ومیز ته ودروي ، او دا ملکیتونه یي بیرته ددولت ملکیت وګرځول سي ۰

۲ـ دفساد په وړاندي دمبارزي په دي پروسه کي باید دا اداره هغه دولتي لوړاقتصادي امتیازونه چه داخلي اوخارجي کمپنیوته دقیمت په مقابل کي ورکول سوي دي ، باید ولس ژرتر ژره ځیني خبراو په راتلونکي وختونو کي هم ددې جدي مراعات وکړل سي ۰

ځکه په دې ځاي کي هم دلوي فساد سر چیني معلومیږي ۰ مثلاً دیوي اقتصادي مجلي په حواله چه دډوبي دمخابراتي سیستم دامتیازدپلورلوقیمت یي دري ملیارده ډالره لیکلي وو، چه پلورل سوي دي۰

په داسي حال کي چه دډوبي دخلګو شمیرنیژدي یونیم میلیون ته رسیږي ۰ ولي دځینواطلاعاتوله مخي دافغانستان دمخابراتووزارت دامخابراتي امتیاز وافغان بیسیم ته په ځلور لکه ډالره ورکړي دي ۰ په داسي حال کي چه دخبري رسنیو په حواله په اوس مهال کي لس میلیونه افغانان تلیفوني آسنتیاوي په لاس کي لري ۰ چه داخپله یوه سرسامه وونکي خبره اوسړي بي تابه کوي ۰که فرضاً دامخابراتي امتیاز په دې شکل نه وي پلورل سوي ، نو لطفاً دې دمخابراتو وزارت دتولو امتیازونودپلورلو قیمتونه اوقانوني مراحل دې ولس ته ښکاره اوبیان کړي ۰ ځکه هره موسسه اوهر دوکاندار چه خپل یو جنس پلوري اویایي په کرایه ورکوي ، نو هغه موسسه او دوکاندار په دې باندي باید پوه وي چه مقابل طرف پر دې جنس باندي ځونه تقریبي ګټه کولایسي ،نو دهغه درویه بیا دخپل جنس قیمت تعینوي ۰

۳ـ محترم کرزي صاحب ، باید ژرترژره داستعماري هیوادونو دهغوفشارونو څخه ملي شتمني وژغوري ، کوم چه داهیوادونه یي په یوه او بله بهانه اوتوطیه باندي دجهاني بانک اونړیوال وجهي صندوق دلاري دملي سیکتور دتقویه تر نامه لاندي غواړي ، دافغان ولس ملي شتمني چه اوس یي نوبت ومعدنیاتو ته رسیدلي دي ، دیوتعدادخپلو استثماري شرکتونواوورسره یو تعداد دافغان ملي ګټو ضد تجارانوته دافغان ولس دارادي خلاف ورکړي ۰ چه داهم په افغانستان کښي دیرغلي استعماري ځواکونودستراتیژي یوه اساسي برخه ده ۰ چه دپانګي اچوني تر نامه لاندي غواړي چه ددې یرغمل سوي ولس توله شتمني په خپلو لاسونو کي ونیسي ۰ اوهم دپورتني ادعا په اړوند دیادولو وړده ، چه ځو میاشتي تر مخه دامریکایي او افغاني نوو مصنوعي تجارانو یو ګډ کنفرانس په واشنګټن جوړسوي وو۰ چه خبر یي په هغه وخت کي دکابل دآریانا دتلویزوني شبکي له لاري څخه خپور سوو ۰ اوپه دې خبر کي وویل سول، چه ددې کنفرانس د جوړیدوسازمان دهي دمحترم بیات له خواه څخه سوي وه ۰ ولي دکنفرانس اصلي نوره ا جندا افشا نه سول ، یواځي دکنفرانس په درشل کي زلمي خلیل زاد دیوي مصاحبي په ترڅ کي وویل : چه موږ دلته پر دې باندي خبري وکړي چه په افغانستان کي اوس ددې وخت رارسیدلي دي ، چه په معدنیاتو کي پانګه اچونه وکړو ۰

ځکه نو زه په دې لیکنه کي دامهمه خبره دلیکلو وړبولم هغه داده : چه په ۱۳۵۶ دملګرو ملتونود یوي مسؤلي اداري له خواه څخه چه دافغانستان تر مځکي لاندي دمعدنیاتو سروي چه یي کړي وه ،نیژدي ۹۰۰ معدنه یي دافغانستان په مختلیفو ګوټونو کښي په ګوته کړي وه ۰ چه په دې کي دنورو مهمو عناصروونګ ته نادره اشجارو هم پراخ شمولیت درلودي ۰ ځکه نو په اوس مهال کي استعماري ځواکونه دافغان ولس دمقاومت سره سره غواړي ، هغه معدنونو ته ځانونه ورنیژدي او استخراج یي کړي ، کوم چه امنیت یي ددوي په لاس کي دي ۰ اوپه اوس مهال کي دولسي مقاومت دزور څخه لیري پاته دي ۰

ګر چه اوس هم یوشمیر متوسط معدنونه لکه دطلاو سنګ مرمرچه و یو تعداد اقتصادي لوټ مارانو ته سپارل سوي دي ، غواړي چه دحاجیګګ داوسپني لوي معدن چه دپخواني سروي له مخي دکاله د یو میلیون ټنه اوسپني داستخراج قابلیت لري،او نیژدي دسلومیلیونو ټنواوسپني زخیره پکښي پیش بیني سوي ده ۰ ولي دا لوي معدن ، دیرغلي ځواکونود یوي لویي توطیي سره چه دجهاني بانک او نړیوال صندوق له لاري مخ ته ځي مخامخ دي ۰ چه ددې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځرګندونو ښکاره ثبوت دجدي ددوهمي نيتي دمعدن دوزارت دسر پرست وزير محترم ( انجنير محمد ابراهيم عادل) هغه پر ملي ګټو ولاړي ځرګندوني وي ، چه د يوه رسمي محفل په شروع کښي يي وکړي٠ او دافغانستان دولتي چار واکو ته يي خبر تيا ورکړه ، چه جهاني بانک او نړيوال وجهي صندوق داسي هلي ځلي کوي ،چه ماته يي نوي ايميل هم په دې اړوند دجهاني بانک رارسيدلي دي ٠ اوغواړي چه دمعدنياتو دورکولو مقررات دخپلو شرکتونو په ګټه دافغانستان په دولت باندي په وچ زور باندي تحميل کړي ٠ چه دادافغانستان دملي ګټو ضد عمل دي ٠ که دافغانستان دولت ودې مهمي حياتي موضوع ته په ډير جديت باندي پاملرنه ونه کړي ، اوپه دې عرصه کې دخصوصي سيکتور لاسونه رالنډ نه کړي ٠ نوپسله پينځويا لسوکلونو به افغان ولس هم دافريقايي غريبو هيوادونو په ځيربه دنړي پرمخ دفقر تر سيوري لاندي ژوند کوي ٠
دياد ولووړ خبره ده چه تقريباً يوه مياشت مخکي په يوه امريکايي رسنه کي دافغانستان دمعدن پروزيرباندي ددېرشو ميلونو ډالرو يو تهمت ليکل سوي وو٠ اوليکلي يي وه چه دعينک دميسو دمعدن په قراردادکښي يي ديرش ميليونه ډالره دچينايانو څخه رشوت اخستي دي ٠ او هم غواړي چه دحاجيګک داوسپني داستخراج قرارداد هم دچينايانو سره وکړي ٠ ولي دمعدن محترم وزيرددوي دااتهام په کلکه رد کړ ٠ اوداقرارداد يي نظر ونوروشرکتونو ته په مادي لحاظ دافغانستان په ګټه وبلي ٠ دامريکايي رسني څخه دا ښکاره معلومه سوله ، چه د دې تبليغ څخه يي هدف دمعدن دوزير ښکاروو٠ اومعلومه سول چه دامريکا يي واکمنانو دافغانستان دمعدن دغه وزير نور پکار نه دي٠ دا ځکه چه ددوي دګټو سره سم ځان نه عياره وي ، ځکه نو هغه يي دوزارت څخه ليري اوپه عوض کي يي خپل غيرمسلکي ګوډاګي نومولي دي ،چه ددې نوي وزيرپه موجوديت کي به په نيژدي راتلونکومياشتوکي ژرتر ژره دحاجيګک معدن اوبيانور معدنونه په خپله قبضه کي راولي ٠ چه په دي عرصه کي دافغان ملي ګټوپه نظرکي نيولو سره دولسي جرګي دمحترمو غړو او افغان ملي ګټو ته وفاداره ليکوالانو او روشنفکرانو خاصه توجه غواړم ٠

محترم کرزي صاحب :
تاسو د ګران وطن د هغه ګوټ په ځانګو کي ځنګيدلي ياست ، کوم چه يو وخت هغه سيمه دابدالي امپراتوري دشان او شوکت ډک مرکز وو٠ تاسو په هغه سيمه کي سترګي وجهان ته خلاصي کړي دي ، کوم چه په څلور کيلو متري کي يي دشير سرخ هغه کلي قرار لري ، چه د افغانۍ هغه ستري تاريخي جرګي په لويه فيصله باندي د( پيرصابرشاه) په لاس دپاچاهي وړي دابدالي احمد شاه پر سرد ايښولوافتخارلري ٠ تاسو دخپلو هغه قهرمانو نيکونو تاريخي پاڼي راواړه وي ، کوم چه دهغو دزيار او قهرماني په نتيجه کي ، دنړي په نقشه کي دلوي افغانستان بيرغ ځرګنداوځانګړي ځاي يي ونيوي ٠
محترم کرزي صاحب : شکر دي اوس هم ځوان يي ، او ډيرعمر دي په مخ کي دي ٠ تاسو بايد داوسني فرصت څخه داسي دولس په ګټه قدمونه واخلي ، چه په راتلونکي وختونو کي مو دولس په وړاندي سر ټيټ نه وي ٠ او داسي معلوميږي چه دابه ستاسوله پاره وروستني چانس وي ، ځکه نو دخپل ولس په ګټه بايد استفاده ځيني وکړي ٠
تاسو خپله دفساد دمنځه وړو دمبارزي په کنفرانس کښي ډير حقيقتونه دولس ته ځرګند کړل ،چه ستاسوتر حاکميت لاندي دولت کي داسي چارواکي سته ، چه دپردو څخه په پټه معاشونه او زري موټران اخلي اودولت پروا نه لري ٠
محترم کرزي صاحب: نو ددغه حقيقت په نظر کي نيولو سره بايد ووايم ، چه دغه نړيوال قوتونه چه افغانستان ته دتروريزم او مخدره موادوپه وړاندي دمبارزي تر نامه لاندي راغلي دي ، خپل اقتصادي اوسياسي هدفونه مخ ته وړي ٠ په هيڅ عرصه کي دافغان ملي ګټوته وفاداره نه دي ٠ دوي به په افغانستان کي خپلي دغي مبارزي ته هغه وخت دپاي ټکي ايږدي ٠چه خپلو اقتصادي هدفونو ته ځانونه نيژدي ياورسوي ٠ او يا دولس دپراخ مقاومت په نتيجه کي شاته تګ بهتره وبولي ٠ ځکه نوغواړي چه په اوسني مهال کي ددې زوريدلي ولس دغه سر شاره طبعي شتمني چه ورسره ده ، دخپلو قواوودشتون په زور دخپلو استثماري شرکتونو او يو تعداد افغان ملي ګټو ضدهغه افغاني مصنوعي تجارانو په نامه او نصيب کړي ، کوم چه ددوي سره هم ږغه دي ٠
نو ددغسي ترخه واقعيت په شتون کي ، دغه زوريدلي او قهرمان ولس ته بايد په ريښتينه توګه افغاني لاس ورکړي ، اوددې خارجي اوداخلي ليوانو څخه يي ژر ترژره د پاک خداي( ج)په کومک باندي خلاص کړي ٠ چه دازوريدلي ولس دخپلو طبعي شتمنيو څخه خپله ګټه واخلي ٠ چه په نتيجه کي به ستاسو نوم هم دتاريخ په زرينو ليکو کي وليکل سي ٠او که نه بيا که دجهان په هر ګوټ کي قرار ولري ،ددې زوريدلي ولس له سترګو څخه به ځان پټوي ٠

ومن الله توفيق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ